د افغان ښځو خدمتونو حقوقي بنسټ

Afghan Women's Rights Organization (AWRO)

د توانمندۍ پروژې عمومي راپور

په نن عصر کې خلک په بې ساري ډول په سیاسی او ټولنیزو مسایلو کې دخیل دي او اطلاعات یې په لاس کې دي او د هرې موضوع په هکله د معلوماتو لاسته راوړلو لپاره لېوالتیا لري او خلک هڅه کوي ترڅو هوسا او آرام ژوند ولري، خو بیا هم ورځ تر بلې ستونزې او مشکلات زیاتیږي، چې یادې ستونزې بېلابېل اسباب او عوامل لري، یو ستر لامل ددې سونزو فساد بلل کیږي، دا چې د بشر د پیدایښت سره سم د فساد پدیده هم راټوکېدلې او د انسانانو ژوند یې په ټولنیز لحاظ د تاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو ګډوډیو سره مخ کړې او دا ځکه چې انسان په فطري ډول د تجمُلاتي ژوند خوښۍنکې دې نو په زیاتو وختونو کې ځینې انسانان د خپل هوس او خواهشاتو پوره کولو لپاره په فساد لاس پورې کوي او ټولنه د پرمختګ او ترقی ځڅه پاتې کوي، نو همدې خبرې ته په پام سره فساد ته په ټولنه کې په سپکه سترګه کتل کیږي او عاملین یې مُجرم بلل کیږي.

په دې وروستیو کلونو کې خو دغه شومه پدیده دومره عامه شوې چې ملتونه یې تر پوزې رارسولي دي، په افغانستان کې د انتقالي اداري او نوي حکومت په راتګ سره ځینو هېوادونو او نړیوالو مؤسسو اوښتیله چې د افغانستان د خلکو سره د نورو ټولو همکاریو تر څنګ د فساد په لمنځه وړلو کې هم مرسته وکړي، په همدې ترڅ کې مدني ټولنې هم د نړیوالو دوستانو سره د فساد پر ضد یوه خوله شوې او د فساد په شومه پدیده پسې یې متې راونغاړلې، د مدني ټولنو په رسمي بنسټونو کې چې د اقتصاد په وزارت کې ثبت او راجستر شوي دي یو هم د افغان ښځو حقوقي بنسټ (AWRO) دی چې په نوموړي وزارت کې په رسمي ډول د ښځوچارو وزارت د (۹۱۷)\(۱۲\۳)۱۳۸۵ه ش) نمبر جواز سره سم په (۴۲۶) نمبر جواز باندې ثبت دي، نوموړي بنسټ د تېرو اته (۸) کلونو په موده کې وتوانېد چې د هېواد په بېلابېلو ولایاتو لکه کابل، هرات، ننګرهار، کندهار، بدخشان، پروان، فراه، لغمان، کنړ، زابل، کاپیسا، بامیان او ارزګان کې خپلو هېوادوالو ته د صادقانه خدمت مصدر وګرځي چې د نېکه مرغه دغه ویاړ یې ترلاسه کړي.

د افغان ښځو حقوقي بنسټ (AWRO) په مختلفو برخو کې د بېلابېلو پروژو د تطبیق ویاړ لري چې د هغې له جملې ځڅه د بشري حقونو د مسألو په برخه کې د مشخصې برنامې له لارې خلکو ته د ځېرنیزو او مشورتي خدمتونو وړاندې کول، د جندر په برخه کې عدالت لاسته راوړل، سوله پالل، په ملي او کله کله په بین المللي کچه په سالمه توګه د شخړو حل، د ښځو د مشرتابه لپاره د فرصتونو برابرول (FLOW)، د ښې حکومتولۍ تقویه، ټولنیز حساب ورکول، د فساد سره هر اړخیزه مبارزه، اطلاعاتو ته لاسرسي او د ډېموکرسۍ تقویه کول دي.

د یادونې وړ ده چې د افغان ښځو د خدمتونو حقوقي بنسټ (AWRO) د هغو بنسټونو له غړو ځڅه ؤ چې د 2013 میلادي کال په سپتمبر میاشت کې د (اداري فساد کچه راټیټول، د ښې حکومتولۍ تقویه کول، رونټیا او ټولنیزې حساب ورکونې) تر عنوان لاندې د پروژې تطبیق کؤنکي ؤ، چې په نوموړې پروژه کې تر یوې کچې لاسته راوړنې او فعالیتونه ترسره شول، د هغې له جملې ځڅه په درې ولایتونو کابل، ننګرهار او پروان کې د (۶۰) مدني بنسټونو سره د تفاهم لیکونو امضاء کول، د ټولنې د بېلابېلو توکمونو لکه ځوانانو، معلولینو، عاموخلکو او ښځو ځڅه د عدالت غوښتنې (۳۶) ګروپونه رامنځته کول چې موخه یې د عدالت غوښتنې د طریقو سره بلدتیا، د لابې کړنو زده کړه او په مدني خوځښتونو کې ګډون کول دي، هېره دې نشي چې دغه پروژه د توانمندۍ بنسټ په مالي مرسته د شلو(20) میاشت په موده کې تطبیق او عملي شوه.

د توانمندۍ بنسټ یو مدني بنسټ دی چې موخه یې په افغانستان کې د مدني ټولنې تقویه، د اداري فساد لمنځه وړل او مدني بنسټونو ظرفیت لوړول دي، چې د افغانستان د نافذه قوانینو د عملي کولو لپاره ښه مصداق دی چې د ټولنیزې حساب ورکونې تقویه، د معلوماتو د لاسته راوړلو حق رواجول او د فساد سره په کلکه مبارزه په ګوته شوي دي.

د (اداري فساد کچه راټیټول، د ښې حکومت ولۍ تقویه، رونټیا او ټولنیزې حساب ورکونې) پروژې بنسټیز فعالیتونه په لاندې ډول دي:

- په کابل، ننګرهار او پروان درې واړو ولایتونو کې د مدني بنسټونو سره د پروژې د پېژندنې جلسې نیول او د اداري فساد د کچې راټیټول په برخه کې د بنسټونو ځڅه هر اړخیز پیمان اخیستل.

- په نوموړو درې ولایتونو کې د اداري فساد سره د مبارزې لپاره د حکومت او مدني ټولنې تر منځ ګډ کنفرانس نیول.
- په نوموړو ولایتونو کې د اداري فساد د کچې د راټیټولو لپاره د تیاتر وړاندې کول او د عدالت غوښتنې کمپاین په لاره اچول.
- په کابل کې د یو مطبوعاتي کنفرانس په لاره اچول.
- په درې واړو ولایتونو کې د اداري فساد د غندنې په موخه رادیوی او تلویزوني پیغامونو نشرول.
- د اداري فساد سره د مبارزې، ښې حکومت ولې تقویه کول او ټولنیزې حساب ورکونې په برخه کې د بروشرو او پوسټرونو نشرول.
- د ټولنیزې حساب ورکونې، عدالت غوښتنې، اطلاعاتو لاسته راوړنې، لابي کولو، او مدني پوهاوي په برخه کې د ټولنې ښځلابیلو توکمونو ښځو او نارینه ؤ څخه د (۱۲۰۰) تنو ظرفیت لوړول.
- د فساد د کچې راښکته کولو په موخه د عدالت غوښتنې ګروپونه غوره کول او پدې برخه کې د ځوانانو د ظرفیت لوړولو لپاره د پروګرامونو جوړول.

پټه دې نوي چې نوموړې پروژه د افغانستان د خلکو او حکومت لخوا ډېره خوښه او تقدیر شوه، دا ځکه چې په افغانستان کې خلک د فساد څخه رنځ وړي او ددې ناوړه پدیدې سره یواځینۍ لاره مبارزه کول دي، چې په دې پروژه کې په هر اړخیز ډول دغه مبارزه موجوده وه او ډېره اغېزمنه تمامه شوه، دا چې اداري فساد په ټوله نړۍ بیا په ځانګړې ډول د افغانستان په څېر یو هېواد چې عملاً پکې دري نیمې لسیزې جنګ او ناخوالې تېرې شوې دي ډېر بد اغېز کوي، نو د افغان ښځو حقوقي بنسټ (AWRO) د افغانستان د خلکو او ملت په نمایندګۍ د توانمندۍ بنسټ څخه د مننې په ترڅ کې غواړي چې په دغه ډول پروژو سره د افغانستان خلکو او دولت سره مرسته وکړي چې په راتلونکې کې د فساد څخه پاک او په خپلو پښو ولاړ حکومت ولري او د نړیوالو دوستانو سره په ګډه د نړۍ په شریک کور کې په ښه حیثیت ژوند وکړي.

په آخر کې یو ځل بیا د ټول ملت او مدني ټولنو په استازیتوب ستاسې د ټولو مرستو او همکاریو څخه د زړه له کومې مننه او شکرګزاري کوؤ.

په درنښت

(AWRO)د افغان ښځو حقوقي بنسټ